# Forbud mot tvangsekteskap (pashto)

## د جبري ودونو منع

ټول هغه پناه غوښتونکي، چې په هېوادونو کې یې جبري ودونه تر سره کېږي، باید چې په ناروې کې د جبري ودونو د منع قانون په هکله معلومات تر لاسه کړي.

که څوک د فشار، ګواښ، روحي یا فزیکي زورزیاتي په وسیله د خپلې خوښې پرته واده شي، دا جبري واده ګڼل کېږي.

### په زور سره په ناروې کې یو څوک واده کولو ته اړ کول منع دي

د زور یا فشار په وسیله څوک واده کولو ته اړ کول منع دي. جبري ودونه له بنسټیزه بشري حقونو څخه جدي سرغړونه ده.

واده باید په خپله خوښه وي؛ یعنې هر څوک باید په خپله د واده کولو پرېکړه وکړي او همدارنګه چې له چا سره او *څه وخت* واده کوي.

هغه څوک چې کوم بل څوک په زور سره واده کولو ته اړ کوي او یا په دې کار کې مرسته کوي، د شپږو کاله بندي کېدلو له خطر سره مخامخ کېږي، که څه هم یاد واده په بهر کې هم تر سره شوی وي. هغه کسان چې په دې جرم محکوم شي، له ناروې څخه ایستل کېدلای شي.

په جبري ودونو کې هغه شریک (مرسته کوونکي) چې دولتي چارواکو او یا واده کوونکي ته ناسم معلومات ورکړي، مجرم ګڼل کېږي.
په ناروې کې ټول هغه کسان، چې عمرونه یې له اتلسو (۱۸) کلونو څخه ټیټ وي ماشومان (زیر سن) شمېرل کېږي او ستاسو عمر باید ۱۸ کاله وي تر څو واده وکړای شئ.
له ۱۶ کلنو څخه د لاندې ماشومانو سره جنسي اړیکې جرم دی.

که واده په بهر کې له هغه چا سره شوی وي، چې عمر یې له اتلسو کلونو څخه ټیټ وي او یا واده په زور سره تر سره شوی وي، نوموړي کسان نه شي کولای چې په ناروې کې د کورنیو د یوځای کېدلو د پروګرام له لارې له خپل مېړه یا مېرمنې سره یو ځای شي.

### که له جبري واده سره مخ یاست، مرسته تر لاسه کولای شئ

ناروېژي چارواکي باید له هغو کسانو سره مرسته وکړي، چې د جبري واده له خطر سره مخامخ وي او یا ویره لري چې د جبري واده له خطر سره به مخ شي. چارواکي کولای شي چې داسې کسانو ته خوندي استوګنځایونه، لارښووني او د وکیل مرسته برابره کړي، تر څو د جبري واده په هکله راپورټ ورکړي او واده باطل شي.

که تاسو د جبري ودونو د قانوني منع او په دې هکله چې چیرې مرسته تر لاسه کولای شئ، لا زیاتو معلوماتو ته اړتیا ولرئ، کولای شئ د کډوالو د چارو د اداري (UDI) یا د کمپ له کارکوونکو سره خبرې وکړئ .همدارنګه تاسو له ډاکتر او یا نارو‌غپالي (نرسي) سره هم خبرې کولای شئ.

### آیا په دې معلوماتو پوه شوئ؟

Informasjonsskriv / معلوماتي پاڼه
UDI 2014-041, www.udiregelverk.no

UDI

# Forbud mot tvangsekteskap (pashto)
# د جبري ودونو منع

**Informasjonsskriv / معلوماتي ليکنه**
**[UDI 2014-041](#), [www.udiregelverk.no](#)**

☐ Jeg har forstått informasjonen / زه په دې معلوماتو پوه شوم

| |
|---|
| Søkerens navn og DUF-nummer / د پناه غوښتونکي نوم او د دوف شمېره |
| Sted og dato / ځای او نېټه |
| Underskriften til søkeren[1] / د پناه غوښتونکي لاسليک [2] |

☐ Jeg bekrefter å ha gitt informasjon /زه دا تائيدوم چې معلومات مې ورکړل

| |
|---|
| Underskriften til medarbeideren/saksbehandleren / دکارکوونکي/ دقضيې د مسؤل مامور لاسليک |
| Eventuelle merknader / احتمالي کتنې (ملاحظات) |

1 Asylsøkere under 18 år skal ikke undertegne informasjonsskrivet, men bekrefte muntlig om informasjonen er forstått.

١ هغه پناه غوښتونکي چې عمرونه يې له ١٨ کلونو څخه ټيټ وي ، بايد دا معلوماتي پاڼه لاسليک نکړي ، خو په شفاهي توګه يې تائيد کړي چې پرې پوه شوي دي 2.

# Forbud mot tvangsekteskap

Alle asylsøkere som kommer fra land der det forekommer tvangsekteskap, skal motta informasjon om det norske lovforbudet mot tvangsekteskap.

Hvis noen blir gift mot sin vilje, etter å ha blitt utsatt for press, trusler eller annen psykisk eller fysisk vold, kalles det et tvangsekteskap.

## I Norge er det forbudt å tvinge noen til å gifte seg

Det er forbudt å tvinge eller presse noen til å gifte seg. Tvangsekteskap er en alvorlig krenkelse av grunnleggende menneskerettigheter.

Et ekteskap skal inngås av egen fri vilje. Det betyr at enhver skal bestemme selv *om* hun eller han vil gifte seg, med *hvem* og *når*.

Den som tvinger noen til å gifte seg eller medvirker til tvangsekteskap, risikerer fengselsstraff i inntil seks år. Dette gjelder selv om ekteskapet inngås i utlandet. Personer som blir dømt for dette kan også bli utvist fra Norge.

Som medvirkning til tvangsekteskap regnes blant annet bevisst å gi uriktige opplysninger til myndighetene eller til personen som skal inngå ekteskap, hvis hensikten er å gjennomføre et tvangsekteskap.

I Norge er alle under 18 år barn (mindreårig), og du må være 18 år for å gifte deg. Det kan være straffbart å ha seksuell omgang med barn som er under 16 år.

Tvangsekteskap og ekteskap som er inngått i utlandet med en som er mindreårig, vil normalt ikke gi rett til å få familiegjenforening som ektefelle i Norge.

## Du kan få hjelp om du er utsatt for tvangsekteskap

Norske myndigheter skal hjelpe personer som har blitt eller frykter å bli utsatt for tvangsekteskap. Myndighetene kan gi trygg bolig, veiledning og hjelp fra advokat til å anmelde forholdet og få ekteskapet kjent ugyldig.

Hvis du trenger mer informasjon om lovforbudet eller hvor du kan få hjelp, kan du snakke med ansatte i UDI eller på asylmottaket. Du kan også snakke med en lege eller en helsesøster.

## Har du forstått informasjonen?